# په مرکزي اسيا کې د امريکا نوې ستراتيژي

**خبر**

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په خپل سايټ کې د مرکزي اسيا لپاره نوې ستراتيژي خپره کړې، چې د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو په تاشکند کې د سيمې د بهرنيو چارو له وزيرانو سره شريکه کړه. امريکا به د يادې ستراتيژۍ له مخې د مرکزي اسيا له هېوادونو سره په ګډه د تروريزم او سختدريځۍ پر ضد جګړې ته دوام ورکوي او تر څنګ به يې له قانون جوړوونکو ادارو سره د پولو په ټاکلو کې يو ځای کار کوي. د بهرنيو چارو وزارت په خبره امريکا په سيمه کې د پولو د خونديتوب او د کار کوونکو د روزلو لپاره ۹۰ ميليونه ډالر ځانګړي کړي دي. دغه نوې ستراتيژي په سيمه کې د امريکا د پلانونو شپږو اساسي ټکو ته اشاره کوي.

۱. د مرکزي اسيا له هېوادونو څخه ملاتړ او په سيمه کې د يادو هېوادونو پر حاکميت او ازادۍ ټينګار کول.

۲. په مرکزي اسيا کې د تروريستي خطرونو له منځه وړل.

۳. په افغانستان کې د امنيت لپاره له يادو هېوادونو څخه ملاتړ کول او پر دغو هېوادونو نفوذ درلودل.

۴. د مرکزي اسيا او افغانستان تر منځ د اړيکو پراخول.

۵. د بشري حقونو د قانون رول ته ارزښت ورکول.

۶. په مرکزي اسيا کې امريکايي پانګوالۍ ته پراخوالی ورکول.

**تبصره**

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو د فبرورۍ په دويمه د مرکزي اسيا ځينو هېوادونو ته په خپل سفر کې خبريالانو ته وويل: «موږ د مرکزي اسيا برياليتوب غواړو. هر هېواد يې بايد خپلواک وي او موږ نه غواړو چې په سيمه کې دې يو هېواد هم بېوزله او د بل غلام وي.» پرته له دې بل څه نه شي کېدلی، چې په سيمه کې د روسيې پر ځای د امريکا د حاکميت هيلې څرګندې کړي.

د امريکا د بهرنيو چارو پخواني وزير جان کېري هم په ۲۰۱۵ م کال کې دې ته ورته يو لوی سفر درلود، چې په ترڅ کې يې د C5+1 يعني قرغزستان، ازبکستان، قزاقستان، تاجکستان، ترکمنستان او امريکا تر منځ يو ګډ چوکاټ جوړ کړ. د ياد چوکاټ موخه دا وه، ترڅو امريکا په سيمه کې خپل له لاسه ورکړی نفوذ بېرته تر لاسه کړي. هغه مهال امريکا په مرکزي اسيا کې په عملي ډول

نفوذ نه درلود، ځکه روسېې وربانديې پوره سياسي واک درلود. له همديې امله د چين اقتصادي پرمختګ د امريکا لپاره لوی خنډ و.

له همغه وخت څخه د C5+1 چوکاټ دوام وکړ، خو کله چې په منځني ختيځ کې وضعيت کړکېچن شو او امريکا هم دغه سيمه دوی ته پرېښوده، نو دغو څواکونو خپل مسير بدل نه کړ.

څېړونکي د امريکا دا ګام د دغه هېواد يوه هڅه بولي، چې غواړي په دې سره يو ځل بيا له لاسه ورکړی چوکاټ تر لاسه کړي. امريکا د دغه چوکاټ ژوندي کولو ته هوسېږي او هڅه کوي چې يو ځل بيا پر يادو سيمو خپل نفوذ ټينګ کړي.

خو د ارزښت وړ يادونه او پروسه بيا دا ده؛ مهمه نه ده چې پر سيمه د امريکا او روسېې د نفو سيالي په کومه اندازه ده، بلکې مهمه دا ده چې دوی د اسلامي ډلو په ځپلو کې له يو بل سره هېڅ ټکر نه لري. دوی د تېرې پېړۍ تر وروستۍ (۹۰ مې) لسيزې پورې له هغو ظالمو ديکتاتوري قدرتونو سره هېڅ ستونزه نه درلوده، چې په سيمه کې د اسلام د مخنيوي لپاره تاسيس شوي وو. نو موږ بايد پوه شو چې هر استعماري هېواد هغه که امريکا او يا روسيه وي، چې د دغې سيمې پرمختګ غواړي، تر څنګ يې د سختدريځۍ او تروريزم پر وړاندې مبارزې ته ډېره پاملرنه کوي.

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## ليکوال: محمد منصور